د ۲۰۱۸ کال د جنوري میاشتې ۱۶مه نېټه
د امریکا نړیواله پراختیایي اداره، د عامه اړیکو څانګه
د ټلیفون شمېره: ۰۷۰۲۶۳۶۳۴۰
برېښنالیک: KblAIDDoc@usaid.gov
وېبپاڼه: www.usaid.gov/afghanistan

## مطبوعاتي اعلامیه

# د امریکا نړیواله پراختیایي اداره د افغانستان په لویدیځ کې د کرنیزو تولیداتو ارزښتي کړیو څخه ملاتړ کوي

**کابل، افغانستان** — د ۲۰۱۸ کال د جنورۍ په ۱۶مه د امریکا نړیوالې پراختیایي ادارې(USAID) د ملګرو ملتونو د خوړو او کرنې بنسټ(FAO) په ملګرتیا د کرنیزو توکو د ارزښتي کړیو ودې — لویدیځ زون پروژه پرانیسته. دغه پروژه د کورنیو او نړیوالو بازارونو سره د افغان بزګرو اغیزمنې نښلولنې په موخه د تولیدونکو او د خصوصي تشبثونو ورتیاوې پیاوړې کوي ترڅو له دې لارې په کرنیز سکټور کې د ټول اړخیزه ودې او د نویو دندو رامنځته کېدو څخه ملاتړ وکړي.

د کرنیزو توکو ارزښتي کړیو پیاوړتیا د اقتصادي ودې لپاره یو غوره پوتانسیال رامنځته کوي. دغه درې کلنه پروژه د غنمو حاصلاتو لوړولو ، د لوړ ارزښت لرونکو کرنیزو محصولاتو د تولید او ګټې کچې لوړولو ، په مالداري برخه کې د نوي تکنالوژۍ کارونې هڅولو ، او د ولایتي او ولسوالیو دولتي ادارو وړتیاوو لوړولو له لارې به د کرنیزو تشبثاتو او مالدارۍ پایدارې ودې څخه ملاتړ وکړي. د ملګرو ملتونو د خوړو او کرنې بنسټ به دغه پروژه د بادغیس ، فراه ، هرات او نیمروز ولایتونو د کرنې ، اوبولګونې او مالدارۍ ریاستونو په ملګرتیا سره تطبیق کړي.

د امریکا نړیوالې پراختیایي ادارې رئیس ښاغلي هربرټ سمیټ په دې اړه وویل «د کرنیزو محصولاتو ارزښتي کړیو ودې — لویدیځ زون پروژه د امریکا نړیوالې پراختیایي ادارې کرنیزې ستراتیژۍ سره همغږې ده. موږ د پروسس کوونکو او د سوداګرو په شان د خصوصي سکټور همکارانو سره کار کوو ترڅو داډ ترلاسه کړو چې لا نور افغان بزګر وکولای شي چې خپل محصولات په ښه بیه وپلوري ، خپل کورنیو ته خوړه ، او ماشومانو ته ښوونه او روزنه چمتو کړي. »

د دغې پروژې ګټه اخیستونکو ډله کې به کوچني او منځني تشبثونه ، د کرنیزو لمړنیو توکو چمتوکوونکي ، د خصوصي خدماتو چمتوکوونکي ، سوداګران ، ژرنده لرونکي او پروسس‌کوونکي ، او تولیدونکي ډلې ګډون ولري. د کرنیزو محصولاتو ارزښتي کړیو ودې — لویدیځ زون پروژه به د ۵۷۰۰ کورنې تشبثونو اړوند ۳۹۹۰۰ وړو فارمونو خاوندانو سره مرسته وکړي.

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د خوړو او کرنې بنسټ(FAO) استازی ښاغلي تامیو شیچیري په دې اړه وویل «زموږ د کار اصلي موخه د کرنې او د خوړو امنیت له لارې په پایداره توګه د افغانانو د ژوند حالت ښه کول دی ، او خورا زیات خوښ یو چې په لویدیځ زون کې د ارزښتي کړیو د ودې لپاره دغې نوې پروژې کې د امریکا نړیوالې پراختیایي ادارې سره ملګرتیا کوو. »

###

د ۲۰۰۲ کال راهیسې په افغانستان کې پراختیایې پروګرامونو باندې د ۱۷ میلیاردو ډالرو څخه ډېرو پیسو لګولو سره ، د امریکا نړیواله پراختیایي اداره افغانستان ته د ټولو څخه لوی دوه اړخیزه ملکي مرستندویه پروګرام وړاندي کوي. د امریکا نړیواله پراختیایي اداره د افغانستان حکومت او ولس سره ملګترتیا کوي ترڅو د هیواد خصوصي سکتور په مشري اقتصادي وده تضمین ، یو دیموکراتیک او ځواکمن دولت چې د قانون حاکمیت له لوري حکومت وکړي رامنځته ، او ټولو افغانانو ته لمړني روغتیایي او پوهنیز خدمتونه چمتو کړي.

د آمریکا ولس، د آمریکا نړیوالې پراختیایې ادارې له لوري د څه د پاسه ۵۰ کلونو راهیسې د نړۍ ګوډ ګوډ ته بشري او اقتصادي مرستې چمتو کړي دي.

د آمریکا نړیواله پراختیایي اداره په فلکر کې | د آمریکا نړیواله پراختیایي اداره په یوټیوب کې | د آمریکا نړیواله پراختیایي اداره په ټویټر کې | د آمریکا نړیواله پراختیایي اداره په فیسبوک کې